مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری

۲۰۲۰/۱۲/۱۰

# ته رانه غلي

ستاراتلو ته انتظاروم ته رانه غلي
درته ډېر سترګي په لار وم ته رانه غلي
غبرګو سترګو مي بس ستالاره څارله
ډېر دي ترې د دیداروم ته رانه غلي
هرهرچا مي داحوال پوښتنه وکړه
ستا له خوا هم امیدوار وم ته رانه غلي
زړه مي ډوب ؤ سمندرکي د دردونو
ډېر په زړه باندې افګاروم ته رانه غلي
ما وې رابه شي چي حال د زړګي وایو
سوی زړه اوناکراروم ته رانه غلي
بېګانه خلکو هم زما په حال ژړله
زه په هسي رنځ دوچار وم ته رانه غلي
ته رانه غلي چي مي رنځ له هډو ورک شي
ته رانه غلي چي بیماروم ته رانه غلي
مستانه نغمي به خوله اوس په څه سر کړي
چي زه ګل اړ د بهار وم ته رانه غلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ